## مطبوعاتي اعلاميه

د هېواد پلورل د دولت يوازينۍ پالېسي ده

( ژباړه )

د عامه چارو هر څارونکي ته دا خبره ورځ تر بلې روښانه کېږي چې يوازينۍ سياست چې دولت يې د اقتصادي او مالي کړکېچونو لپاره لري؛ هغه د (( په دولتي بنسټونو کې اصلاحات)) تر نامه لاندې په استعماري کمپنيو باندې د هېواد د ملکيت پلورل دي. د دې کار لپاره يې پلمه دا ده چې دغه بنسټونه په خپل کار کې ناکام او زموږ پر بوديجه بار دي؛ نو بايد له منځه يووړل شي!

دولت (د رسنيو او برېښنايي وېبپاڼو له لارې) د يوازينۍ حللارې په توګه د دغو بنسټونو او موسسو پلورل پيل کړي. د حکومت مشر، يوسف چاهېد د پارلمان د غړو په مخ کې له اقتصادي او مالي کړکېچونو څخه په وتلو کې د خپلې اداري ناکامي ومنله؛ خو ويې ويل چې لامل يې د «لويو اصلاحاتو» ناتواني وه چې د وزيرانو شورا لخوا تصويب شوي وو. نوموړي وويل چې دی او اداره يې دې ته ژمن دي چې د ده په وينا د «لويو اصلاحاتو» له کاري پلان سره سم مخته لاړ شي مګر په هر حال نوموړی به په دې اړه په سياسي کچه قيمت ورکړي. د حکومت وينا او د رسنيو پاليسي د دې لپاره دي چې د خلکو ذهن د دې خبرې منلو ته چمتو کړي چې د عامه موسسو د له منځه وړلو په باب د پيسو نړيوال صندوق هغه شرايط پلي شي چې دولت يې مخکې له مخکې د نورو پورونو په بدل کې منلو ته غاړه اېښې ده. دا هغه حللارې دي چې د نړيوالې بانکدارۍ د هغو متخصصينو لخوا وړاندې شوې چې په تونس کې د مالي او کړکېچ پای ته رسولو لپاره د ميراثي حکومتونو له لوري د سلاکارانو او وزيرانو په توګه ګومارل شوي دي.

مات اقتصاد او مالي کړکېچونو او همدارنګه د ژوند کولو لوړو لګښتونو په تونس کې زموږ خلک تر پزې راوستلي دي. همداراز د دينار د ارزښت کمېدل، د خلکو پر کارونو د حرامو ماليو فشار او داسې نورې ستونزې له لسيزو راهيسې د پانګوال نظام د پلي کولو او دې ته د فکر نه کولو ترخې پايلې دي چې دا نظام د خلکو د ستونزو په حلولو او دوی ته سوکالۍ په راوړلو کې ناتوانه دی. بل لوی لامل يې د پيسو نړيوال صندوق د تباه کوونکې تګلارې مطابق کار کول دي: (د سب سايډي زياتول – د روغتيا، ښوونې او روزنې، اوبو او د خلکو د نورو ګټو په برخه کې د دولتي لګښتونو کمول، د دولتي موسسو په ځانګړې توګه د ګټورو موسسو خصوصي کول چې پانګوال شرکتونه وکولای شي چې د هېواد شتمني لوټ کړي). د پيسو د نړيوال صندوق د تګلارې

موخه دا ده چې هېواد یوازې د دې ورتیا پیدا کړي چې سود لرونکي پورونه بېرته ادا کړي، چې دا تګلاره د دې د تلپاتې غلامۍ وسیله ده!!

اې مسلمانانو:

د استعمار لخوا رامنځته شوی رژیم به یوازې د استعمارګرو په چوپړ کې وي، د هغو شرکتونو ساتونکی به وي چې ستاسو شتمني لوټوي او د هر هغه چا پر وړاندې به درېږي چې د هېواد د ازادولو هڅه وکړي او وغواړي چې د «دروغجنې ازادۍ» کنوانسیون افشا کړي. حاکم رژیم په دې کې هېڅ دوه زړی نه دی چې له عامه شرکتونو څخه د خپلو خلکو شتمني وپلوري ( لکه څنګه چې پخوا یې تر څمکې لاندې شتمني ضایع کړې) او د دې درواغو په ویلو به یې سترګې هم پټې نشي چې پلورل خپله پرېکړه وبنیي او داسې وبنیي چې له کوم بهرني امر سره هېڅ تړاو نه لري.

یو داسې رژیم چې د خپلو شرکتونو د چلوولو ورتیا نه لري، مالي وضعیت یې نشي اصلاح کولای او له فساد سره مبارزه یې تر وس تېره ده او د هېواد مشري نشي کولای پرته له دې چې په پورونو کې یې غرق او له مالي ماتې سره یې مخ کړي.

اې مسلمانانو:

نن ورځ موږ یو داسې دولت نه لرو چې زموږ او زموږ د ټولو چارو په اړه فکر وکړي او دا زموږ لازمي دنده ده چې یو ریښتنی دولت تاسیس کړو چې له هر ډول استعماري اړیکو پاک وي؛ یو داسې دولت چې په خپلو پرېکړو کې د امت د ګټو په فکر کې وي او داسې اقتصادي او سیاسي نظام غوره کړي چې له اسلامي سیاسي اصولو څخه اخیستل شوی وي.

**موږ پوهېږو چې دا دنده یوه داسې فریضه ده چې الله سبحانه و تعالی یې پر ټولو مسلمانانو امر کړی، په ځانګړې توګه پر هغو چې  قدرت او نفوذ لري؛ چې اوسنی امت او راتلونکي نسلونه یې د بایلونکو او غلامانو په لاسونو کې له لاسه ورنه کړي.**

حزب التحریر- ولایه تونس مطبوعاتي دفتر

د صدور ګڼه: ۱۴۳۹/۱۶

۱۴۲۹، د رجب ۱۲مه

۲۰۱۸، د مارچ ۳۰مه، جمعه

ژباړه: احمد خالد